Pashto | پښتو



# د لومړني ښوونځي پيل کولو ته چمتو یاست؟

اوس چې ستاسو ماشوم پنځه کلن کيږي، نو د دې وخت دی چې په لومړني ښوونځي کې د شاملولو په اړه فکر وکړئ.

د لومړني ښوونځي لومړي کال ته بنسټ (Prep) ويل کيږي. هغه ماشومان چې په هغه کال کې چې ښوونځي پيل کوي د اپريل تر ۳۰مې پورې پنځه کلن شي، کولی شي بنسټ پيل کړي.

ښوونځي ته تلل د شپږ کلنو ماشومانو لپاره جبري دي.

## څرنګه ماشومان شامل د ويکټوريا په دولتي لومړني ښوونځي کې شاملولی شی

### مخکې له دې چې تاسو غوښتنه وکړئ

- د عمر له مخې، ستاسو ماشوم په کوم کال کې ښوونځی پيل کولی شي، حساب يې کړئ
- ښوونځي او د خپل ښوونځي زون په **findmyschool.vic.gov.au** کې وموموئ
- د لومړي سمستر په شروع کې د ابتدايي ښوونځيو سره اړيکه ونيسئ تر څو د ښوونځي د ليدنې لپاره وخت وټاکئ (اختياري).

### څنګه غوښتنليک ورکولای شئ

- د بنسټ (Prep) غوښتنليکونه د دوهم سمستر له پيل څخه شروع کيږي
- د جولای تر وروستۍ جمعې پورې خپله د غوښتنليک فورمه وسپارئ
- ښوونځی به د اګست په لومړيو دوو اونيو کې له تاسو سره د پايلو په اړه اړيکه ونيسي.

نور معلومات په **vic.gov.au/enrolling-foundation-prep** کې ترلاسه کړئ

VICTORIA State Government | Department of Education

The Education State